۲۰۱۸/۰۱/۲۳

لیکوال: سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

# باتور دوستم؛ زما پلار یو خونخور سړی

سرچینه : د المان نوموتي ورځپانه فراکفورتر الګمینه څېتونګ ويبپانه
څېړنیز خبریال او لیکوال : مارکو زیلیګر
ژباړن : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

-http://www.faz.net/aktuell/gesellschaft/mein-vater-ist-der-grausamste-mann-in-afghanistan

## د باتور دوستم سره مخامخ کېدنه، د هغه پلار په ظالم افغانستان کې یو تر ټولو بې رحمه سړی

په افغانستان کې یو لیوني شتون لري، د دوستم په اړه یوه ریښتیني کیسه په دې ډول پیلیږي؛ د یوولسم د سپتمبر له پیښې څو ورځې ورسته افغان جنګسالار دوستم د امریکا Langley کې د سي آی اې دوتر ته ټلیفون وکړ. دوستم د سیټلایټ په ټلیفون کې وایي، دی کولي شي چې له تاسو سره د طالبانو په نسکورولو او د اسامه بن لادن په نیولو کې مرسته وکړي. له دې نېټې څلور اووني لا تیرې نه وې، چې د متحدو ایالاتو جګړه په افغانستان کې پیل شوه. امریکایانو په پیل کې غوښتل دا جګړه په څمکه کې د لړو پوځیانو او د ډیرو دقیقو هوایي بمباریو له لارې تر سره کړي. د ۲۰۱۱ کال د اکتوبر میاشتي په منځ کې لسګونه امریکایي ځانګړي سرتیري په چورلکو کې د هندوکوش غرونو په یوه دره کې را کوز شول، چیرته چې دوستم ورته په انتظار کې ناست وه. د دوی موخه دا وه، مزار شریف د طالبانو له ولکې وباسي. که څه هم دا مهال یوه ستونزه رامنځ ته وه، هغه ستونزه دا وه چې نه امریکایانو او نه هم دوستم موټریزه وسایل درلودل، هلته یواځې آسونو شتون درلود. اکثرو امریکایي سرتیرو نشو کولي آسونه وځغلوي. دا کومه مهمه خبره نه وه، دوستم امریکایانو ته آس ځغلول ورزده کړل. لوبه له دې ورسته پیل شوه. جګړه په داسې حال کې پیل شوه، د امریکایانو جنګي الوتکو له هوا څخه د بمباریو له لارې خپلې جنګي موخې وېشتلې او افغاني ملېشو پر ځمکه جګړه کوله. څو اوونې ورسته امریکایي او افغاني آس ځغلونکو پوځیانو طالبان د مزار شریف له ښاره وشړل.

باتور دوستم دا مهال پينځلس کلن وه، کله چې د هغه پلار د جګړې دغه خونړۍ څېرکې لیکلو. څېړنوال خبریال لیکې: اوس موږ غواړو شپاړلس کاله ورسته د باتور سره د خبرو اترو یوه ناسته وکړو او د هغه سره د پلار په اړه خبرې وکړو. یو سړی چې زړورتیا افسانوي شوي ده. وسمهال تازه امریکایانو د دوستم په اړه یو فلم جوړ کړې دی. دی د دریو لسیزو راهیسې په افغانستان کې د اوزبکو لړکیو مشر دی. دوی ځانونه د چنګیز پاتي شوني یا ورثه نوموي. چنګیز هم یو ډیر سخت زړه، ظالم، وینې زبېښوونکې، خونخوره او بې رحمه انسان وه.

دلته د بیلګې په توګه د یو سرتیرئ کیسي وړاندې کوو، یو سرتیرئ څه غلا کړي وه، جنرال دوستم هغه ته د مرګ سزا واورلوله. د دوستم په امر غل سرتیرئ د یوه زغروال ټانک تر زنځیر لاندې کړل شو. نور سرتیرې دې صحنې لیدلو ته درولي شوي وه. دوستم د زغروال ټانک ډریور ته امر وکړو، حرکت وکړه، ټانک سړی پر ځمکه چېپیټ کړو او توټې توټې پر توله سیمه وویشل شو. دا د ۱۹۹۷ کال وه، دا مهال دوستم د زرګونو ملېشو قوماندان وه. ده په خپلو ملېشو کې هیڅ ډول بې انظباطي نه شواې منلې. دوستم ان دا مهال یو بې رحمه انسان وه، په ځانګړې توګه د خپلو دښمنانو په وړاندې بې رحمه وه. که موږ د افغانستان د ورستي پیرۍ تاریخ کې د وینو پل وپلټو، نو خامخا او هرومرو د وینو دا لار دوستم ته ورځي او پرې تیریږي.

د ۱۹۷۰ کلونو د پای راهیسې دوستم په څلور لسیزو کې د افغانستان د جګړې په ټولو اړخونو او جبهو کې جنګیدلي دی. ده په ندرت سره بندیان ساتلي دي، ټول اسیران یې وژل. له همدې امله د المان یوې بلې ورځپاڼې د ډیولټ په نامه دوستم یو خونخواره، وینې زبېښوونکې انسان نومولي دی.

په ۱۹۵۴ کال کې رشید دوستم د افغانستان په شمالي ولایت شبرغان کې د یو بزګر په کور کې زیږېدلي دی. د هغه کورنۍ یوه بې وزله کورنۍ وه. په کوچنیوالي کې دی مجبور وه، چې په کاروندو کې مرسته وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دا همهال په افغانستان کې د ټوالواک محمد ظاهرشاه واک چليدو، پاچا غوښتل افغانستان په ساړه جنګ کې ناپيلي او خپلواک وساتي. په ۱۹۷۳ کال کې افغاني کمونيستان د يوې کودتا له لارې واک ته ورسيدل. دوستم د يو عادی کارګر او نلدوانی دندې ورسته په درويشت کلنی کې وسله وال پوځ ته لاړ. هلته ده په عسکري کې پوځي تکتيک او لارښووني مسلک زده کړو.
په ۱۹۸۰ کلونو کې د شورويانو د اشغال پر مهال دوستم په سور پوځ کې نورې پوځي زده کړې ترلاسه کړې. د دوستم پيژندني اصلي نښه او نښاني غداري او خيانت کول دي، په بله وينا دوستم په خيانت کولو کې مشهور دی. لومړی د کمونستانو په پلوې وجنګيده، بيا د دوی په ضد وجنګيده، بيا لومړی د تاجکانو سره د پښتنو په وړاندې وجنګيدو، له دې ورسته بيا له پښتنو سره د تاجکانو په ضد وجنګيده. دوستم يو جنګسالار دی چې خپلي ملېشو لري. د هغه وسله والي ملېشي چې کوم ځای ته تللي دي، په هغه ځاې کې په چور، تلان او لوټولو لاس پوري کړي دی او ان جنسي تيرې تر سره کړي دي. دوستم خپل وسله وال دې جرمونو تر سره کولو ته پرينښي دي.
په لويديځه نړۍ کې د هغه نوم د جرم و جنايت سره ټينګ تړلي دی.تر ټولو لومړۍ د دوستم نوم د شبرغان ښار په سويل کې د ليلي دښتي په ټول وژنه، ډله ييز وژني او قتل وقتال سره نښليدلي دی.
د ۲۰۰۱ کال دسامبر مياشت کې په کندوز کې امريکايانو اټکل ۸۰۰۰ طالب جنګي اسيران دوستم ته وسپارل، څو دغه شمير طالبان جنګي اسيران محبس ته بوځي، هلته ترينه پوښتني او پلټني وشي. په ريښتني توګه يواځي پينځه زره جنګي طالب اسيران زندان ته ورسول شول. نور ټول په اوسپنيزو کانټينرو کې زندې شول او ساه يې ورکړه، يا په اوسپنيزو کانتينرو کې په ډزو وويشتل شول او يا په دښتو کې په ګوليو سوري سوري شول، په بمونو کې والوځول شول.
د نړۍ د بشري حقونونو سازمانو دوستم د دغي ډله ييزو وژنو او ټول وژنو مسوول ګڼلي دی. دی اوس دا خبره نه مني او وايي چې له دې دی هيڅ خبر نه دی.
ډيري افغانان د جنګي ملېشو د ظلمونو او جنايتونو څخه پوزې ته راغلي دي. که څه هم طالبان سختدريځه دي، خو چيرته چې دوی واکمن شوي دي، هلته يوه اندازه امن او نظم شتون لري.
موږ غوښتل د دوستم سره هرومره مرکه وکړو، خو په کابل کې لوې ځارنوالۍ د دوستم د نيولو امر ورکړي وه. ځکه دوستم نږدې يو کال وړاندې د خپل يو سياسي سيال سره ناوړه چلند کړي او پرې جنسي تيرۍ هم کړي وه. دی ترکيې ته فراري شوي وه او هلته په جلا وطني کې له خپلو درېواړو ښځو سره ژوند تيروي. دوستم په ترکيه کې يوه کازينو يا قمارخونه هم لري. د دوستم مشر ځوې د ده په اصلي ټاټوبې کې د هغه ځايناستي دی.
پوښتنه دا ده چې آيا باتور دوستم د خپل پلار د ستر جنايتونو څخه خبر دی او که نه ؟ که خبر وي، بيا نو دی څنګه د دغو جرنومو او جنايتونو سره ژوند کوي؟
موږ د باتور دوستم سره په شبرغان کې د دوی په استوګنځي کې د وړې په يوه توده ورځ کې د ليدلو کتلو وعده اېښودلي وه. کور ته د ورتللو په لاره کې او کور مخې ته وسله وال کسان ولاړ ول او ترشا يې د سمنټو کانکريټي غټ غټ ديوالونه ليدل کيدل. زموږ موټر د استينادې ديوالونو را تاوشول او به يوه ستره دروازې هم ورتير شول. موږ د دوی سپين رنګه استوګني انګړ منځ ته ورتاو شولو. د استوګنځي انګړ په ورستي برخه کې يو عجيب غريب خيالي له فنتازۍ ډک شيشي ساختمان جګ جګ ستونونه د کمانيوسره ولاړ ول. باتور دوستم موږ ته په خپله مانۍ کې ښه راغلاست ونه وايه، لکه څنګه چې د شبرغان ځايي اوسيدونکي دغه مانی د عصري تعمير په نامه يادوي، بلکي د دروازې په مېلمستون کې کينولو.
ولاړل وسله وال کسان سلامي کوي، کله چې باتور دوستم په دوديزه افغاني جامو کې د يو اوږ کميس او ستر پرتوګه سره له کوره راووت. د جامو د پاسه يوه توره کورتۍ اغوستي او يوه اوږده چپنه اچولي وه. د ده کسانو له ده سره د يو ستر واکمن په څېر چلند کولو. خو دې داسي نه مالوميده، باتور په روغبړ کې بې جرحته، بې زړه ښکاريدو او شرمناکه خندا يې کوله، لاسونه يې ډير واړه او نازکه وه، د ده په نازک نرۍ مخ کې د ځواني موسکا او نازکه بدن کې د ده د پلار ځواني نه ليدل کيده.
رشيد دوستم د خرس په شان، غټ ډبنګ، بدشکله سپينه چاغه څېره لري، لنډ اوښتان او برېتونه لري. په ده کې هر څه وچکلک سخت او جګړه ييز ښکاري. د دوستم ګواښونکي، ويرونکي خندا، په يو کتاب کې د ده په هکله ليکلي شوي دي، چې خلک له ويرې ورته هک پک پاتي کيږي. د پلار په پرتله ټنګی ژنکی باتور بيا نازک ملايم او ماشوم مالوميږي. ان داسي مالوميږي چې ده به هيڅ انسان ته ضرر نه وي رسولي.

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

مېلمستون ته لار د یوې منحنی زینې له لورې ور تله. پاس یوه خدمتګار په ښی لارس کې دروازه خلاصه نیولې وه او په ګین لاس کې د شین چاې یو چاینک نیولی وه، کله چې دی کوټې ته راننوتلو درنې قالینو د باتور د ګامونو غږ پورته کولو. خونه مصنوعي رڼاوو رڼا کړې وه، د څوکیو اوږده اوږده قطارونه ایښودلي شوي وه. درنې درنې پردو کړکې پوښلي وې. باتور په یوه څوکۍ کې په داسې حال کې کیناست، چې یوه خدمتګار خلکو ته په چاې اچلو بوخت وه، باتور په یوه جدې نظر سره وویل؛ زما پلار نه شي کولی، حتا ځارویو او نباتاتو ته ضرر ورسوي. هغه یو بارحمه ، مهربانه سړی او نرم مزاجه انسان دی او زیاتوي په دې اړه هیڅ څوک د هغه په پرتله نه پوهیږي، باور وکړئ، زما پلار دومره بده بلا یا کوم دیو نه دی، لکه څنګه چې تل ده ته کتل کیږي. باتور د چاې له ګیلاس څخه یو غړپ وکړو او د خپل ماشومتوب کیسې پیل کړې.

کله چې دی تنکي ځوان وه، ده ته پلار کتابونه ډالۍ کړل، دا کتابونه د چنګیز خان د ژوند په اړه لیکلي شوي وه. باتور په خوب کې د زړورو کسانو یو لښکر لیدلي وه، چې دوی په آسونو سپاره وه او په مقابل لوري بریدونه کول او ټوله مرکزي آسیا یې لاندې کړې وه. ,, موږ چنګیزیان یو، د چنګیز اولاده یو، چالاکه ماهر، زړور یو. باتور ته ورپه زړه شول، ما ته یو ځلې پلار ویلې وه، همدارنګه یو زړور جنګیالي غواړم اووسم.

خو پلار غوښتل باتور سیاستوال شي. باتور د انقرې په یوه پوهنتون کې د نړیوالو اړیکو زده کړې پیل کړې. باتور د پلار تابع وه. د ۱۹۱۶ کال په اوړی کې د فراغت څخه لږ مخکې د ده یو انځور ولیدل شو، چې دی په نیویارک کې د ملګرو ملتونو په یوه غونډه کې د افغاني پلاوې سره ولاړ دی. ده خپل دغه انځور په فیسبوک کې هم خپور کړي دی. خلکو په کمنټونو کې ورته لیکلي وه، چې دا انځور په افغانستان کې د خپلوانو څخه د ګټې اخیستنې او خپلوي پالنې یو ښه ثبوت دی. خو باتور یې نه مني، نه ده په هغه وخت کې یواځې د خپل پلار استازیتوب کولو. یو فسبوکې په ریشخندي سره د دې انځور لاندې پوښتنه کوې، چې ایا موږ اوس د یو وړکتون له لوري اداره کیږو. باتور په دې خبرو خبر دی، ځکه دی ډیر په فیسبوک کې فعاله دی. په خندنې ژبه کې وویل: دی په فیسبوک کې خپله یوه پاڼه لري، هرڅوک کولي شي خپل نظر په ازاده توګه ووایې او ولیکي.

د ده دا خبره سمه نه ده، په افغانستان کې د بیان او رسنیو ازادیو هیڅ څرک نه لګیږي، ځکه تل ګوتنیونکي خبریالان ان د افغانستان په شمال کې وژل کیږي. باتور په لویدیځ کې د خپلې زده کړې پر مهال د میډیا او رسنیو په اړه یو څه زده کړي دي. دی پوښتنه کوي، په تاسو کې خو خبریالان مجبوره دي، چې په دقیقه او سمه توګه څېړنې ترسره کړي. دی له دې امله داسې وایي، ځکه په لویدیځ کې د ده پلار په اړه ځښت ډیر دورغ خپاره شوي دي. د بیلګې په توګه د لیلي دښتې د ټول وژنې په اړه، زما پلار خو یواځې دا امر ورکړي وه، چې اسیر طالبان محبس ته بوځئ. د دې ټول وژنې مسوولیت د واړو قوماندانانو په غاړه دی. دوی په خپلسر دغه وژنې تر سره کړي دي. زما پلار دا مهال په کندز کې وه. څو د امریکایانو سر د یو بل برید چمتووالي ونیسي. باتور وویل،.له امریکایانو پوښتنه وکړی، دوی به دا خبره تائید کړې. دی بیا د یو خدمتګار په لاس یو بنډل کاغذونه راغواړي. له دغې بنډل کاغذونو یو څو راو باسي، دا دي په دې اړه یو څو نورې بیلګې هم شته، چې څنګه د لویدیځ رسنۍ درواغ خپروي،,, د اوزبکو ملېشو جنرال دوستم اسیران کوهو یا ځاګانو ته وغورځول او دا کوهې په بلدوزونو هوار کړل. دی په خپله دغه خبر په جګ غږ لولي. بیا دی خبریالانو ته ګوري او پوښتنه تیرنه کوي، تاسو پوهیږي، چې په ریښتیا څه پیښ شوي دي ؟

باتور دوستم په چل کې د ۱۹۹۷ کال د یوې بلې ټول وژنې څخه خبرې کوي. طالبانو د رشید دوستم مرستیال ملک پهلوان ته بډې ورکړې او ورته وایې، ته به د مزار شریف ښار په واک کې ورګډ کړل شي، کله چې ته موږ ته مزار شریف پرته له جګړې تسلیم کړي او دوستم نیولي موږ ته راکړي. دوستم د دې موضوع په اړه خبریږي او وتوانیدو چې فرار وکړي. کله چې طالبان مزار ښار ته ننوتل، د خپل د تړون څخه واوښتل او خبره یې وېړه کړه. د ملک پهلوان په امر د اوزبکو ملېشو او ځایې خلکو پاځون وکړ. طالبان په ښار کې نابلده وه او په دام کې بند پاتې شول. کوم طالبان چې په جګړه کې ژوندي پاتې شوي وه، هغوي ټول ژوندي په زوره کوهې کې واچول شول او ځینې ژوندي خښ کړل شول. دا مهال تر دوه زور ډیر طالبان ووژل شول، دا د هغو وژل شویو طالبانو شمیر دی، چې لویدیځوال خبریالان دوستم مسوول ګڼي باتور وایي ,, زما پلار دا وژنې او دا جرمونه نه دې تر سره کړي، ځکه هغه په دې وخت کې له وړاندې ترکیې ته تښتیدلی وه ,,

د داسې نورو ډیر جنایاتو مسوول دوستم ګڼلي کیږي، ښایي د ځینوجنایاتو لکه د ملک پهلوان بیلګه په ۱۹۹۷ کال کې ښودل کیږي مسوول نه وي. ولې په ښکاره توګه په ډیرو نور جګړه ییزو جرمونو او جنایتاتو کې دوستم په یو ډول نه یو ډول ښکیل دی.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ۱۹۹۲ څخه تر ۱۹۹۶ کلونو د پلازمېنې کابل په ورانولو او زرړه بوګنونکو جګړو کې ستره ونډه درلودلې ده.
دوستم په مزار شریف کې د خپلې قوماندانۍ په مرکز کې ناست وه او کابل یې خپلو خپلسرو ملېشو ته پرېښودلې وه.
د دوستم ملېشو په کابل کې عام خلک ځورول، شکنجه کول، وژل، لوټول او ان جنسي تیرۍ کول. کله چې د دوستم ملېشو نارینه ووژل پر ښځو یې جنسي تیرۍ کاو او کورنو ته یې اور ورته کولو. تر اوسه هیڅ چا دوستم او د ده د جبهې قوماندانان محکمې ته نه دې ودرولي.
دوستم په افغانستان کې د هغو نارینوو څخه ګڼل کیږي، چې په خپل ژوند کې پرته له جنګ جګړو پیلو بل هیڅ نه دي تر سره کړي. دوی جنګسالاران دي. دغو جنګسالاران که څه هم اوس دریشې، نیکټایګانې اغوستې او دولتي دندې ترسره کوي، دوی لا تر اوسه په دې باور دي، چې د دوی د زور قانون چلیږي. د ۲۰۱۴ کال راهیسې دوستم د ولسمشر مرستیال دی. کله چې ده په کابل کې د لوړې مراسم پر ځای کول، دوستم قسم یاد کړو، چې د افغان ولس چوپړ به کوم، دا قسم غوړل د هغه مخه هیڅ نه نیسي، څو بیا خپلې ملېشې د ولسي خلکو کلیو او باندو ته ونه لیږي.
هلته کلیوال ملکیان په ډېر ظالمانه توګه بندیانوي او د دوی پر کورونو چاپه وهې، چور او چپاول پیلوي. ,, دا طالبان دي، ترهګر دي، دوی باید لمنځه ولاړل شي ,, باتور دوستم وویل او بیا یې په قراره پر خپله کرسۍ باندې ډډه ولګوله .
حقیقت دا دی، چې ټول خلک د دوستم د ملېشو د ظلمونو څخه پوزې ته راغلي دي. ځکه افغان کمزورې حکومت د خلکو امنیت نه شي تامینولي، ځکه په کمزورۍ حکومت کې هیڅ عدالت او خپلواکه قضایي سیسټم شتون نه لري.
خلک له دې امله امنیت او عدالت په بل لورې کې لټوي.
طالبان که څه هم مذهبي سختدریځه خلک دي، خو د دوی په سیمو کې امن او نظم شتون لري.
دوستم او د دوستم په شان نورو جنګسالارنو دې لپاره پوره کار کړي دی، څو افغان حکومت په پښو ونه دریږي.
ان په خپله امریکایان نور نه غواړي د خپل یواځېني جګړمار قهرمان ساتنه وکړي، امریکایانو ډېره موده دوستم د طالبانو په ضد جګړو کې حمایه کولو، خو وسمهال امریکایانو ترینه مخ اړولي دی. امریکایانو اوس دوستم ته د ,, جزام ناروغ ,,  یا د یو پمنې ناروغي ناروغ په څېر ګوري، نن دوستم ته امریکایان د امریکا ویزه نه ورکوي. څو د خپل جوړ شوي فلم په پرانیست غونډه کې برخه واخلي.
باتور دوستم تور لګوي، که څه هم دوستم امریکایانو ته څومره ډېر کار او خدمتونه وکړل او له امریکایانو ډېرې ګیلې وکړي. باتور خپل ساعت ته وکتل او وویل د غرمې ډوډۍ وخت دی.
یو خدمتګار خونې ته را ننوت او وویل تاسو کولي شي چې ډوډۍ وخوري. باتور دوستم وویل، هیله کوم چې میز ته کینې. پر میز د چرګانو غوښه، وریځې، ورسره کوکاکولا او فانتا ایښودلې شوي وې.
باتور دوستم د الماني خبریالانو څه پوښتنه کوي، چې څنګه کولي شو، په المان کې د خپل پلار امیج انځور یا حیثیت بیرته ښه کړل شي. آیا دا به ښه نه نوي، چې د المان د ولسي جرګې یو څو غړې شبرغان ته را دعوت کړو؟ باتور ورسته بیا وویل، پوهیږي چې بلاخره د ده پلار د افغانستان آزادونکی دی. ښایي الماني سیاستوال یو ریښتني قهرمان وپیژنې، ,, نه چې تل په فساد ککړ ولسمشر ,, وپیژنې. دی په دې نه پوهیږي، چې المان هم اصلاً نه غواړې د دوستم سره اړیکې ولري. ان د ۲۰۰۱ کال د بن په کنفرانس دوستم ته بلنه نه وه ورکړل شوې. په هغه کنفرانس کې چې د افغانستان سیاسي نظام په اړه مشورې تر سره کیدې. دا مهال دوستم د امریکایانو په څنګ کې د طالبانو په وړاندې جنګیدو. ان هغمهال ټولو ته دا خبره جوته وه، چې د دوستم په شان یو جنګسالار ته د نوی افغانستان په کنفرانس کې هیڅ ځای نشته.
د  Horse Soldiers د آسونو سرتیرې یا پر آسونو سپاره سرتیرې، دا د هغې فلم نوم دی، چې په کې د رشید دوستم تر ټولو غورو کړنو څخه کیسې کیږي. د مزار شریف فاتح رول نوید نګهبان، د ابو ناظر په نوم د Homeland  په نامه سریال کې مشهور لوبغاړې لوبوي.
دوستم تراوسه نشته، چې په څه ډول شپاړلس کاله مخکې د طالبانو په وړاندې د ده د لاسته راوړنو کیسه د امریکا په وسله وال پوځ کې بیانیزې. هغو امریکایي سرتیرې چې په دغه عملیاتو کې له نږدې برخه اخیستي وه، د بیرته ستنیدو څخه ورسته د نیویارک ټایمز خبریال ډاګ ستاتن  Doug Stanton  ته باورنه کیدونکې کیسې کړی دي.
خبریال دغه کیسې په خپل یوه کتاب کې د  Horse Soldiers  په نامه لیکلي دي. تر همدې سرلیک لاندې دغه فلم چمتو شوی دی. په دې فلم کې دوه مرکزي لوبغالي لوبیږي. یو لوبغاړی کپیتین میچ Captain Mitch Nelson دی، دی د امریکا متحدو ایالاتو د ځانګړې ځواک یو پخواني سرتیری دی او بل رشید دوستم دی. د فلم په یوه صحنه کې د دغو دوه سرتیرو څخه کوم یو تجربه لرونکي، مکارې او جنګي ستراتجیسټ دی ښودل کیږي. په فلم

---


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

کې دوستم د نیلسن څخه غواړې چې د ځمکې لاندې یوه سمڅه یا جنګې مرچل باندې بمباري وکړه، نیلسن له دوستم پوښتنه کوي، چې ته څه ځنګه ډاډ من یې، چې هلته د ځمکې لاندې د طالبانو سنګرونه دي. ځکه دې نه غواړې بې ګناه ملکیان ووژنې. ورسته دوستم د خپلې مخابرې فریکوینس بدلوي او په لوړآواز وایي، دا جنرال دوستم دی.
راځئ ! د مخابرې په بلې خوا کې یو غږ پورته کیږي، دا غږ د طالبانو د یو قوماندان غږ دی. دی نه پوهیږي، چې دا د دښمن غږ دی او دې د هغه په فریکوینس باندې مخابره کوي. لږ شیبه ورسته امریکایان د مخابرې ځای د ځمکې لاندې په سمڅه کې تشبیتوي. نور پاتې کار د GPS له لورې د کنټرول کیدونکې بم له لوری تر سره کیږي.
څیړنوال ژورنالسټ مارکو زیلیګر په پای کې لیکي، د بیرته تګ پرمهال دروازې مخې ته د چلان شویو موټرو غږونه واوریدل شول، د ماسپښین ناوخته ټایم وه. د شبرغان څخه تر مزار شریف ښاره ډیره لار ده. دی باید په هغه کلیو کې موټر وچلوي، چې نن په هغه سیمو کې طالبان بیا واکمن شوي دي. تاسو باید دې ته پام وکړئ، د ماښام پیلدو مخکې باید تاسو بیرته خپلو ځایو ته راوګرځي. باتور په یوه دوستانه ژبه وویل،,, دا د تاسو په ګټه ده,, ده د خدای په اماني لپاره لاس راکړو او سمدستي خپل کور ته واپس روان شو. بیا بیرته راوګرځیدو، کله چې بیرته راوګرځیدو داسې ښکاریدو لکه چې څه ترینه ویر شوي وي. باتور وایي. زه پوهیږم، زما پلار د تاسو په لویدیځ کې د یو جنګې جنایتکار او خونخوره په نامه نومول کیږي، خو په پټه کې تاسو ورته د یو اتل په څیر درنښت لري.
د ۲۰۱۸ کال د مارچ په میاشت کې د دولس زړورو سپرو په نامه دغه فلم ښایي د المان سینماګانو کې ننداري ته وړاندې شي.

پای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ